داکتر عبدالحی نیازی ۲۰۰۸/۰۳/۲۵م

# مدنی ټولنه (Civil Society)

د شلمي پيړی نوی ټولنيز او سياسی اصطلاح ( متمدنه ټولنه) ده چې دغه اصطلاح تراوسه پورې استندرد او جامع تعريف نه لري ځکه چې دا اصطلاح خپله د ولسواکی د نظام د ارزښتونو يوه ټولنيزه ارزښت او لاسته راوړنه دی. د اسلام څپيځلی دين د بشريت د تمدن په کاروان کې د انسانانو مدنی حقوق د کاڼي کرښې په توګه کښلی دی او بشری ټولنې ته د انسانيت، معنويت، تفکر، مشورې، مرکې او جرګې لار او ليک ښودلې دي. د معاصراروپا د سياست په دګر کې ژان ژاک روسو د ټولنيز تړون په کتاب کې د مدنی ټولنې اساسات په اروپا کې کيښود. نن د سياست په ډګر ګې د کپيتليزم او کمونيزم په پرتله د ټولنيز د يموکراسی ( سوسيال د يموکراسی) پلويان په تيوريکه توګه ډير په مدنی ټولنه باندې ټينګار کوی او ټولنيزعدالت او مساوات يی خپل شعار ګرځولې دي او د قانون په حاکميت ، سياسی پلوراليزم ، ټولنيز آزادی او د ملی رفاع په دولت باندې ټينګارکوی. که څه هم د مدنی ټولنې مفکوره د لرغونې يونان د افلاتون او ارستو له افکارو څخه سرچينه اخلی خو نن د مدنی ټولنې ښيرازه په ټولنه کې د غير دولتی ټولنې ډيرښت او د ديالوک يا خبرې اترې کلتور او د منطق تبادلی دود کيدل د ي په داسې حال کې چې په يوه غير مدنی ټولنه کې يواځې دولتی موسسې او د زور واکی کلتور واکمن دی. افلاتون او ارستو په ټولنه کې عدالت د فضيلت او سعادت يا نيکمرغی بنسټ بللې او د انسانانو د ارادې په استقلال باندې ټينګار کړی دې. ننی بشری ټولنې تر اوسه پورې دغه سرحد ته يی نه دې رسيدلي چې د متمد نې ټولنې تعريف د خيالی او تيوريک اړخ نه وباسی او په عمل کې متمدنې ټولنه د ټولنيز عدالت او مساوات پربنسټ جوړه کړي او د هغه پر اساس تعريف ورته وټاکي او بشر د ځمکې کرې د اوسيدونکې او د بشرې ټولنې د غړې په توګه وپيژني نه د يو يا بل هيواد د تبعې په توګه او د تابعيت په اساس هغه سره چال چلند وکړي. هر څومره چې په هر يوه هيواد کې د متمدنې ټولنې بنسټيز پرنسيپونه او اصول يعنې د مدنی قانون واکمنی ، ټولنيز عدالت ، مساوات او غير دولتی خير ښيګنې ټولنې ډيرې شي هغه هيواد په هم هغه اندازه د متمدنې ټولنې د جوړول په لور ځي. د مدنې ټولنې د جوړلو ستراتيژيکه موخه د بشری ټولنې ګلوبلايزيشن( نړيوال کيدل) د ټولنيز عدالت پربنسټ ده او معتقد ده چې بشری ټولنې د نړيوالې ټولنې د جوړيدو په لور درومی. معاصره مدنی ټولنې هلته ښه مطالعه کيدای شي چې د ټولنيز ولسواکی يا سوسيال د يموکراسی پرنسيپونه په بشپړه ډول په ټولنه کې پلې شوې وي او د دولتی اداراتو ، اقتصادی او توليدی بنسټونو تر څنګ ګڼ شمير غير دولتی ټولنې منځ ته راغلی وي او داغير دولتی ټولنې د بشری کراماتو پربنسټ د ټولنې د خير ښيګنې د پاره د بشر د ژوندانه هراړخيز بشری ، حقوقی، روزنيز، کلتوری، مادی او معنوی اړتياوې ته يی چې د دولت له خوا پوره پام ورته نه کيږی پام کوی. دغې غير دولتی عدالت پلوه بشری ټولنې دي چې په ټولنه کې د هر ډول تبعض، امتيا ز او حق تلفی مخه نيسی او د ټولنيزعدالت او مساوات پربنسټ بنی آدم د بشری ټولنې د غړی په توګه پيژني او بشری کراماتو ته په درنه سترګه ګوری. په يوه هيواد کې چې هر څومره بشری پلوې غيردولتی ټولنې، غير انتفاعی خير ښيګنې، حقوقی، علمی، ادبی، کلتوری، مذهبی او کارګری، خبری او چاپيريال ساتنې ټولنې به ډيرې شي هغه هيواد په هم هغه اندازه د متمدنې، مصون او قانونمند ټولنې د جوړيدو په لور خوځيږی. د متمدنې ټولنې د جوړيدو د اقتصادی ، علمی او تکنالوژی ودې پرمختګ سره کلکې اړيکې لری. د مدنې ټولنې د ځوځښت ستراتيژيکه موخه په بشری ټولنه کې دټولنيز عدالت ، مساوت او برابره فرصت ټينګښت او د هر ډول استثمار ختمول دی.

له تاريخی پلوه د ځمکې په کره کې مدنيت او د مدنې ټولنې اساسات هغه مهال پيل شول چې بشرې ټولنې د خپل پا يښت دپاره د ښکار په څنګ کې د کرهنې په لورمخه کړه او د غرنی او ځنګلی ژوند څخه د ښارونو د جوړولو او دسياسی واک دهرم د جوړولو په لور پيل وکړه او د کار ويش منځ ته راغی. د و حشت او بربريت دوره مخ په ختميدوشوه او د بشرې ټولنې د تمدن په لور دوره پيل شوه چې د بشری تمدن پيل يا د سولايزه شن د پيل په نامه ياديږی. په هر هيواد کې چې د بشری ټولنې لرغونې اثا ر ډير وموندل شي هغه هيواد د خپل تمد ن يا د سولايزه شن د لرغونټوب او قدامت ادعا کوی او په هغه باندې وياړي.

په معاصر تاريخ کې د مدنی ټولنې د جوړيدو په وړاندې ستره خنډونه په دې ډول دی:

د دکتاتوری نظام ټينګښت ، ښوونې او روزنې نيمګړی سيستم ، د مدنی قوانينو کمزور تيا او نه پلې کيدل ، کورنۍ و بهرنۍ جګړې ، خشونت پلوه ګوندونو جوړيدل ، د بشر د حقوقو ټولنې کمزور تيا ، د سياسی ، اقتصادی ، علمی او



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

تخنیکی بنسټونه کمزو تیا او په ټولنه کې د استبدای ټولنیز دود او کلتور ټینګښت دي چې د ټولنې د تمد ن لاره مخه ډب نیسی. په ټولیزه توګه دا یو ډیر اوږد مزل دی چې بشری ټولنې د ریښتني مدنی ټولنې پړاو ته ورسیږي.
هر څومره چې دخشونت میزان په ټولنه کې لوړ وي د مدني ټولنې د جوړیدو امکانات په هم هغه اندازه ټیټ وي. د اقتصادی اړخ له پلوه د مدنی ټولنې د جوړیدو بنسټ د نه ګټې اخستنې یا غیر انتفاعی اقتصادی ټولنې ډیریدل په ټولنه کې وي او د ټولنیز اړخ له پلوه د مدنی قوانین جوړیدل اوپلې کیدل د مدنی ټولنې د جوړیو بنسټ ګڼل کیږی.
د مد نی ټولنې د جوړیدو دپاره لومړی باید په ټولنه کې د ټولنیز ولسواکۍ نظام پرنسپونه په اقتصادی او ټولنیزو چارو کې پلې شی او د دې اهدافو د لاسته راوړل په هیواد کې ولسواکې نظام باید د ولس د آزادي ارادې او د مستقیمې رای په اساس وټاکل شي. ولس واکی بیله مدنی قوانین او بیله ګڼ ګوندی نظام او سیاسی پلورالیزم منځ ته نه راځی. د نن ورځ ګوندونه ده چې د سبا ورځې په مشروع یا غیر مشروع توګه و ا ک په لاس اخلی او د ټولنې برخه لیک ټاکي. د ټولنې د سیاسی ثبات د ټینګښت د پاره په کار ده چې د تشدد پلوې ګوندونو د ودې مخ به ونیوله شي.
افغانستان تر هغو پورې د مدنې ټولنې په لور نه ځي تر څو د تیرو دیرش کالو ناخواړو په اړه عادلانه قضاوت ونه شي، ملی خاینین او د بشری حقوقو ناقضین محکمه به نشي او په رښتینې توګه په افغانستان کې ملی واکمنی ، د قانون واکمنی او په ټولنیز او سیاسی چارو کې د زغم او سیاسی پلورالیزم کلتور پلې نه شي.
ولسونه په ولسواکه ټولنو کې باید دومره پوه اوبصیرت ولری چې په څه ډول ګوند ته رای ورکړی چې سبا به ټولنه د ګوند تر اسارت او دکتاتوری لاندې رانشی. ولسواکې د لوکوموتیف په توګه ټولنه ملی کیدو په لور بیایی او دا ګوندونه دي چې د ټولنې پوتانسیل ته سیاسی استقامت ورکوی د بیلګې په توګه په آلمان کې د نازی ګوند سیاسی واک په مشروع توګه د ولس د ارادې سره سم ترلاسه کړ خو د کتاتوری نظام یی ټینګه کړ. د آلمان ولس ضعیفه ګوند پیژندنه سبب شو چې په المان کې یوه داسې بیساری د کتاتوری ټینګه شي چې نه یواځې د المان برخه لیک ته بدلون ورکړي بلکې د دوهمې نړیوالې جګړې سبب شواو په پای کې نه یواځې جرمنی تجزیه شوه بلکې اوه ملیونه جرمنان ووژل شول او په ټولیزه توګه پنځوس ملیونه انسان یا ووژل او پنځوس ملیونه نور ټپیان شول او ګڼ شمیر اروپایی هیوادونو د ویجاړې شول.
په ټولیزه توګه متمدنه ټولنه د یوه ولس پلوه عدالت پلوه ټولنې د جوړولو تیوری ده چې اوس په عمل کې خپل لومړنی پړاو پیل کړی او ترڅو چې داغورځنګ دنړی په ګوټ ګوټ کې خپریږی او د هغه اساسات په هیوادونو کې پلې کیږي او یوه ریښتې ټولنیز مصونیت،عدالت، مساوات او او د مدنی د قانون واکمنی منځ ته راځې او غیر انتفاعی موسسې غښتلې کیږی او په ټولیزه توګه بشری ټولنې د ګلوبل لایز یا نړیواله کیدل به لور خوځیږی ډیر اوږدی مزل پاته دي چې مدنی ټولنه په ریښتینې مفهوم منځ ته راشي.

په درنښت


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de